بسم الله الرحمن الرحيم
د مولانا سعيد افغاني د سولې او تفاهم، نشراتي ارګان
www.said-afghani.org
آزاده، ټولنيزه، علمي ، فرهنګي و نشراتي ارګان

Dr.Said Afghani

د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!

ننګرهار ميديوتيک ( رسنيز کور)
د نشر نيټه : ۳۱ جنوری ۲۰۱۳ ميلادی

# ننګرهار میدیوتیک رسنیز کور له OSDR/CoAR اداري سره مرسته کوي.



**OSDR/CoARموسسه غواړي چې په ننګرهار ولايت کې د پروپوزل ليکلو، مديريت، اداري چارو او بشري منابعو د ظرفيت لوړونې برخه کې يو شمېر افغان ځوانانو ته دزده کړې لارې چارې پرانيزي. په دغو کې هغه کسان چې اوسمهال عملا پردندو کارکوي او هغوی چې لا دندې نه لري، دواړه ډوله شامل دي.**
**دغې اداري دپنجشنبې په ورځ د۲۰۱۳م کال دجنوری پر۳۱مه نېټه ديوې ناستې په ترڅ کې له ننګرهار ميديوتيک څخه وغوښتل، چې دوی ته خپل همکار، او نور فعال ځوانان د روزنې لپاره وروپېژني.**

ياده موسسه ژمنه کوي، چې دځوانانو دنوښتونو دپراختيا او پخپلو مټو دمتکي کېدا په هدف به هر مياشت په لسګونو ځوانان روزي، چې په هره برخه کې خپلې وړتياوې وښيي.

ننګرهارميديوتيک دخبريالانو او مدني ځوانانو يو فعال نيټ ورک لري، چې په ژورناليزم، سربېره دبېلابېلو نورو مدني فعاليتونو په برخه کې هڅانده نوښتونه ترسره کوي. ځکه يې نو ديادې موسسې، داهڅې دخپلې سيمې او هېواد پرمختګ په لارکې ارزښتمنې وګڼلې.

Coarموسسې، دا امکان هم وښود، چې ښايي، په اينده کې ددغه پروګرام ترسيوري لاندې روزل شويو ځوانانو ته دکارموندنې لارې چارې هم برابرې کړای شي.





ننګرهارميديوتيک ديادې موسسې هڅې ستايي، چې دنهو مياشتو په ترڅ کې به لسګونه تنه فعال ځوانان لا فعال کړي او دخپل هېواد اينده به دروښانتيا او مسلکيتوب خوا ته لړه نوره هم ورنژدې کړي.
دپروګرامونو دپيل او څرنګوالي په اړه به ننګرهار رسنيزکور وخت پروخت خپلو مينه والو ته معلومات وړاندې کړي.

ننګرهار رسنيزکور

بازگشت به صفحه اصلی – www.said-afghani.org